نوروزنامه
www.blueye.me

# په غزني کې پسرلني دودونه



**اسدالله بلهار جلالزی**
لیکوال او ژورنالیست

ناشر: شبکه چندرسانه‌ای بلوآی - بخش نوروزنامه
تاریخ انتشار: ۱۴۰۴/۰۱/۱۳

دا چې د نوي کال په را رسیدو سره په طبیعت کې د بدلون نښــې نښــانې را ښکاره شي، سپیره غرونه، درې او بیدیاوې ورو ورو شنه چپنه واغوندي، د هر کلي او ښــې نمانځنې لپاره یې خلک هم د همدې نوې ورځې ځینې له پخوارا پاته دودونه پالي، یو او بل ته د نوي کال مبارکی ورکوي او هڅه کوي په خوښی له یو بل سره مخ شي.

د نوي کال په ورځ د غزني په ښاري سیمه کې د سمنک پخول او هفت سین تیارول یو بل دود دی. د سمنک لپاره لکه د هیواد د نورو سـیمو په څیر تیاری له مخکې نیول کیږي. هغه ښځې چې په دې کار کې تجربه لري د نوروز له را رسـیدو مخکې غنم په یوه لوښي کې اچوي، اوبه ورباندې پاشي، کله یې لمر ته او کله یې هم له لمره ګوښه ږدي. څو چې شنه او ریښــــــې وکړي، بیا د غنمو شنه سرونه ترې غوڅ کړي، ریښــې او د غنمو دانې ښې میده کوي، اوس خو داسې هم دی چې تر ماشین یې وباسـي. جوش ورکوي اوبه یې په یوه بل لوښـي کې نینې کوي، دا کار دوه درې ځله تکراریږي. وروسـته په همدې اوبو کې مخصـوص اوړه ورګډوي، بوره ور اچوي، لوښي کې د ضرورت له مخې اوړه اچوي په نرم اور یې ږدې تر هغوو یې لړي چې پاخه شي.

د سمنک د ښـه رنګولو لپاره څو چارمغز هم په اوړو کې وراچوي. کله چې سـمنک پوخ شـي نو تر یوه بریده یې بڼه لیتۍ ته ورته شي. خو لیتۍ اوبلنه وي او سـمنک بیا ټینګ او پوخ چارمغزي رنګ لري. خوړل یې خورا خوندور وي. ډیر خوړل یې هم د هرچا د وس خبره نه ده. البته په ځینو کورنیو کې چې نورې میلمنې هم را بللې شــوې، د پخولو پر مهال د ســمنک ځانګړې سندره هم زمزمه کیږي.

دویم ډول یې هم بیا اوړه د همدې غنمو په اوبو کې لمدیږي. له اغږلو او سـوک ورکولو وروسـته د لنډ وخت لپاره په داســې حال کې چې یو پلاسټیک هم ورباندې غوړیدلی وي، ایښـودل کیږي، څو خمیره شي. له هغه وروسته یې ذغالي په غوړیو کې

ښې و اغړلی شـي او په يوه لوښـي کې يې چې نرم اور تر لاندې يې بل وي په غوړو کې د وروکو پراټو په څير پخيږي. چې تر ډيره د پښـتنو په سيمو کې د غوړو څکيو ته ورته وي. چې دا هم د نوروز په ورځ کورنۍ له خپلو خپلوانو سره يو ځای خوري او په خپلو ګاونډيانو يې هم ويشي.

**هفت سين (اوه ګونې ميوه)**

د نوروز د ورځې د هر کلي او خوښـۍ مراسمو ته د غزني د ښـاري سـيمو په کورنيو کې لا له وړاندې چمتووالی وي. د دغه لرغوني دود نمانځل لا هم تر ډيره بريده په پخوانۍ بڼه شته.

د نوروز د ورځې د مهمو خوړو« اووه سين » ترکيب داسـې دی چې د هرې ميوې نوم د «س» په توري پيل کيږي. لکه «منه، سياه دانه، سنجد، سمارق (خريړي) اوړه، سرکه و سبزه» دا نومونه بيا په نورو ژبو کې يو څه توپير کوي.

بايد يادونه وکړم چې داسې ميوې هم ممکن په کې وکارولې شي چې ښايي نوم يې د « س» په توري پيل نه شي. د نوروز د ورځې په دې خوندورو خوړو کې، سنځلې، سمنو، مميز، خوبانۍ، پوست کړل شوي بادام، پسـته او چارمغز شامل وي. دا نذر په هره کورنۍ کـې برابـريـږي، روټه، مالګينــې کلچــې او د فيل غوږونه په نوم خواږه هم د نوروز ورځــې لپاره تياروي، بيا يــې د شاوخوا او ګاونډيانو کورونو ته ورليږي. دا ميوه بايد سره وخوړل شي. ويل کيږي چې اووه سينه له اره سنځله ده.

د يادونې وړ بولم چې د همدې دودونو د پاللو ترڅنګ د نوي کال په ورځو کې د غزني ښار ډيرۍ وګړي په تيره بيا ښـځې له خپلو ماشومانو او د کورنۍ له غړو سره زيارتونو او هديرو ته هم ځي او مړو ته دعاوې کوي.

**د طاق شاه جنډې پورته کيدل.**

د کال په لومړۍ ورځ سـهار مهال د غزني په زاړه ښـار کې دننه د طاق شـاه په نوم زيارت جنډه هم د يو لړ رسـمي مراسـمو په ترڅ کې پورته کيږي. په دې مراسـمو کې کټ مټ لکه په مزار شـريف کې د دولتي مامورينو ترڅنګ نور خلک هم برخه اخلي. يو شمير خلک د دغه زيارت په بام په غوړول شويو فرشونو ناست وي او ځينې نور بيا کښـــته ولاړ وي. زيارت ته د نږدې کورونو په بامونو هم په سلګونو ښځې او ماشومان ليدل کيږي چې د جنډې د پورته کيدو ننداره کوي.

مراسم د قرآنکريم په تلاوت پيليږي، بيا د ولايت يو مسوول د دولت له لوري د داسې دودونو د پاللو او ورته د کار کولو په برخه کې خبرې کوي. په پای کې د طاق شـــاه زيارت توغ په داســې حال کې پورته کيږي چې د ډيرو خلکو او آن په بامونو د ناســتو ښځو په شونډو، د تکبير نارې او درودونه جاري وي. وروسته په راغلو خلکو باندې په کاغذي پاکټونو کې وچه ميوه ويشـــــــل کيږي.

مراسم د ښه، آباد، سوکاله، بسيا او خوشحاله کال په دعا سره پای ته رسيږي.

بيا له همدې ځايه ډيرې ځوانان د غزني ښار په ختيځه برخه کې د غره په ډډه کې د « سخي صاحب د نظرګاه» په نوم زيارت ته روانيږي.

**د دغه ځای او زيارت په اړه**

د سلطان محمود غزنوي له زيارت يا هم ووايم د روضې کلي د باغونو پای ته يو زيارت جوړ دی.

دغه ځای ته د حضـــــرت علی کرم الله وجهه (نظرګاه) یا نظرځای وایي، دغه ځای ته زه خپله ځو ځله ورغلی یم. یاد شوی زیارت د غره له تیږو جوړې ګومبزې لري، سویل لوري ته یې هم یوه کوټه شته چې کوتر خانه یې بولي. د دغې ودانی ختیځ پلو ته یانې شاته یی په یوه ډبره کې د اس د سوو نښــــې لیدل کیږي، جنوب ته یې یو کچکول، یو لوی ټال او له سپینو ډبرو جوړ د اوبو وړوکی حوض جوړ دی. دا حوض په څمکه کې کیندل شـوی. (له بده مرغه چې د ۲۰۱۸ کال د مارچ په اتمه نیټه دا زیارت په بمونو والوزول شو. خو خلک لا هم ورځي او هلته میلې کوي.)

د نوروز په ورځو کې خلک او دولتی مقامات ورته راتلل، دلته خورا ستره میله وي که څه هم دا ځای د غره په ډډه کې دی، د تفریحي وسایلو او ناستې لپاره مناسب ځای نشـــته خو د نوروز په ورځ په زرګونو خلک چې ډیری یې ځوانان وي په موټرو او موټرسیکلونو او پلي ورته ځانونه رسوي، دوی له ځانونو سره د کیناستو لپاره فرشونه هم راوړي وي.

دلته ګرځنده هټۍ جوړې وي چې په کې د خوړلو او څښـلو هر توکي، میوې، خوراکونه او نوشابې موندلې کیږي، د ښار یو شمیر هټۍوالو د خرڅلاو توکي را انتقال کړي وي. ځوانان غیږې نیســـي، اتڼ کوي او هرچا ځان ته په هواره یا د غره په لمنه کې مجلس جوړ کړی وي.

د «ګنزګاه سـخی صـاحب، او د سـخی صـاحب په نوم زیارت» ته خلک زیات احترام لري. د نوي کال په ورځ یې جنډه پورته کیږي. د جنډې د پورته کیدو پر مهال خلکو یوه حلقه جوړه کړي وي. چې د حلقې خلک ځانونه د طریقت مریدان او د غزنی د اولیاو ارادت مندان ګڼي. دوی په جهر ذکر کوي او په عین حال دا هرڅه بیا په پښــتو ژبه وایې د بیلګې په ډول دوی داسې څه وایي (قربان دې شـمه پیره په بغداد کې دې لنګر دی ـــ لاس راکه دسـتګیره) او یا هم دا شـعر په ډیر خوند سـره وایي:

(خوب وینم عالمه که یې ځوک راکې مانه

پروت یم سر مې ایښی د خپل یار په ځنګانه)

چې د شعر د مصـــــرعې سره په پای کې بیا په ښه لوړ غږ هل هل هم کوي. دلته آن تر ماښامه پورې میلې دوام کوي. ماشومان هم خپلې سیمه ییزې لوبی کوي په څرخونو کې تاویږي یا هم په ټالونو کې زانګي.

د طاق شاه او سخي صاحب په نوم د زیارتونو د جنډو له پورته کیدو وروسـته، د کال په لومړی میاشـت کې د شـیخ علي لالا، حضـرت حکیم سنایي، بهلول صاحب او... زیارتونو جنډې هم د خلکو د پراخ ګډون په ترڅ کې پورته کیږي. خلک هلته هم په خپل لګښت د سلګونو خلکو له پاره لیتی پخوي. په دې کې د بهلول صاحب د زیارت «دلده» بیا خپل ځای او نوم لري.

**په کلیوالو سیمو کې پسرلني دودونه**

کله چې د لومړي ځل له پاره د پسـرلي ورمېږ را والوزي، پسـته اورونه پیل شي، د لومړني باران د څاڅکو په را لویدو سره په کلیوالو سیمو کې ماشومان له خوښۍ نه په اتڼونو شي اودا سندره یې په شونډو جاری شي:

ارګوړي برګوړي

خدای دې یوزوی درکړي

چې په غولې درته ښوري

ولویدو کنګړي

نوروزنامه
www.blueye.me

په سرغواړي يو دبى

باران بيا اوري نرى

يو موټى اوړه راکړه

ګوړه او خواږه راکړه

د اسمان توري اوبه راکړه.

دوى په ډلو ډلو کور په کور ګرځي او اوړه ټولوي. دا لرغونى دود لا هم ژوندى دى او تفصيل به يې وروسته راشي.

*****

د دې سندرې دوهم ډول بيا داسې هم دى.

لړګوري برګوري

خداى دي يوزوى درکړي چې په ځمکه درته ښوري

بي بي پاتوولاړه

يو موټکى وړه غواړي

د اسمان خړې اوبه غواړي

د ځمکې شنه واښه غواړي

آوربنداري لاس راکه

زرغون وټى په لاس راکه

د اکبر حيدرزي په پانه د دغه دود په اړه لولو:

د ماشـــومانو دغه دود ته موږ(لړګوري برګوري) ويل د لړګوړو برګوړو په وخت به يو هلک و چې ســـپين ږيرى به مو ورته ويل او له سپين سره لوبيدونکې جينى ته به مو لويه ډاډنګه ويل.

دا دود به د ماشومانو له لوري د ژمي له ختمېدا سره سم او دراتلونکي آباد پســـــرلي په پار تر سره کېدو. په دغه ورځ به مو وړۀ، غوښــه، او داســـې... نور خوراکي توکي راجمع کول بيا به مو په يو کور کې پخول او خوړل. د حيدرزي په پانه د لړګوړو برګوړو په ورځ د ماشومانو دا سندره داسې خپره شوې:

لوو ډاډنګه اوړۀ غواړي

په مالګه يې توروه غواړي

د آسمان خړې اوبه غواړي

د ځمکې شنه واښه غواړي

خداى دي يوزوى درکړي چې پر غولي درته ښوري

چې ځمکې در پوټې کړې

او ارغلى موکډې کړې

را وباسئ وړۀ او غوښه چې کال آباد شې

دوهمه سندره

لمرختلی باران اوري
ګيدړه وادوي شغال ګوري
په کميس يې رنګي پوري
د شنې زرغونې ليکې
تللې پورې ورې
موږ ته اوره راکړئ
کيږدی پاتې لا نورې
خدای دي يوزوی درکړي
وای د نجلی مورې

کله به چې ماشــومان اوره را ټول کړي د کلي دکاندار باندې يې خرڅوي او له هغه څخه پتاســې، ژاولې او يا هم کلچې تر ګوتو کوي او يا دا اوره په کوم کور کې يوې مهربانې (مور) ته ورکوي هغه ورته حلوا پخوي. په دې ډول د نوي راتلونکي پسرلي شيبې په خوښيو او ميلو پيل شي.

**د غوايانو خنک کول**

د پسرلي په شپو ورځو کې چې به کله ځمکه يو څه وتره غونډې شوه، پخوا به کليوالو خلکو غوايي په ځغ کړل او د باندې به يې ورباندې په ځمکه کې څو کرکونو يوې وکړه چې دغه کار ته به يې (خنک)وايه.

د غوايانو (خنک) کيدل هم يوه پســرلنی ميله وه. د کلي کابو ټول هلکان به را ورسيدل، يوه به بل ته او بل به بل ته ور نارې کړې. را اوچت شئ غوايي (خنک) کوي خندا، شور، ځوږ او غږونو به يې د کلي فضـا په سر اخيســتې وه. د غوايو خنک کيدل هم په حقيقت کـې د کليوالو بزګرانو له خوا د کار لپاره د چمتووالــي يو اعلان و. اوس مهال که څه هم تـر ډيـره حده کـرنيـزې چارې ميکانيزه شوې، خو بيا هم که څوک تراکتورونه نه لري د ځمکې د يوې کولو لپاره يې غوايي ساتلي وي او دا کار کوي.

**د بامونو په سر د ستنې کار**

د ستنې کار، يا ګنډونو، خولو، لمنو، دستمالونو، مريو د وټويو جوړول له لرغونو دودونو څخه ګڼل کيږي.

د پسرلي په را رسيدو سره چې هواوې يو څه تودې شي او ورځ باراني نه وي نو بيا ډيرې پيغلې چې د ستنې کار کوي خپلو کارونو ته په بامونه دوام ورکوي. دوی هڅه کوي په هغه کور کې راټولې شــي چې د کلا ديوالونه يې څه لوړ وي او بهر نه ونه ليدل شي. په بامونو د پيغلو کارونه هم د دوی ترمنځ د اړيکو د ساتلو او هم د خوږو مجلسونو سبب کيږي.

**د سامرو او پينډو راوړل**

همدا چې د سرې هوا اوواورو لمنه له ځمکې ټوله شي نو په کليوالو سـيمو کې پيغلې او هغه هلکان چې عمرونه يې لوړ نه وي، په ډليزه او منفرده ډول د سامرو، پينډو، پوڅکيو، ښيځو، غرنيو پيازو او شلخيو په راوړلو پسـي وځـي. له يوې خوا د طبيعت له مناظرو نه ننداره کوي له بلې خوا سابه ورسره راوړي.

د زيارتونو يا هديرې تودول

د غزني په ډېرى کليوالو سيمو کې د پســــــــرلي په رارسيدو سره پيغلې په ډله‌ييزه توګه زيارتونو او هديرو ته وځي. دوی له ځانونو په کاسو کې لاندې کړي اوړه، يو څه غوړي او نغري، سون توکي يا لرګي هم ورسره وړي. هلته نذرونه، ککوړې او ډوډۍ پخوي. دوی له يوې خوا له خدايه د نيکانو او صالحانو په روی مرادونه غواړي، له بل اړخه خپلو مړو پسې هم خيراتونه کوي.

د زيارت تودولو پر مهال کليوالي پيغلې په يو ډول فالونه هم اچوي. د بيلګې په ډول کله چې پيغلې وغواړي د کومې کورنۍ اميندوارې ناوې راتلونکی ماشـوم معلوم کړي چې هلک دی او که نجلۍ، نو بيا د لمدو اوړو څخه په موټ کې د ځراغونو په څير څو ګردې ګردې ټوټې جوړې کړي، په همدې اوړو کې له نورو پټ د اغزيو، يا ځلرګو اغزي ننباســــــــي او د اور په ايرو کې يې واچوي کله چې لږ پاخه شي بيرته يې را وباسي او په منځ کې مات کړي. که د اغزي تيره څوکه ښکاره شـوه، انګيرنه يې دا وي چې د ناوې راتلونکی ماشوم به هلک وي او که يې تيره څوکه ښکاره نه شوه بيا وايي چې د فلانۍ اولاد به نجلۍ وي.

دوی د ورځــي تــر ناوخته په هديره او زيارت کــې د ککــړو پخولو ته دوام ورکوي، پاخه کــړې ککوړې په لارو کــې تيــريدونکو خلکو او ماشومانو باندې ويشـــي. البته بايد يادونه‌وکړم چې د پســــرلي په رارسيدو سره، په کليوالو سيمو کې، د غورځيدنې، کولشترې، خوسي، خاني خاني، نيزه بازي او نورې سيمه‌ييزې لوبې او دودونه هم تر سره کيږي.

د غزني په ځينو پښــــتنو سيمو کې د کال په لومړۍ ورځ (کوچه) هم پخيږي « په کليو کې به پخوا د نوي کال په ورځ بيلابيلې غلې او دانې لکه نخود، لوبيا، غنم، نســـــک، باقلي دا يو ځای سره پخېدل چې (کوچه) به يې ورته ويله او باور دا وو چې د نوي کال په ورځ د دې پخلي تيارول به د کال کرنيز حاصلات (روزي) ډېر کړي. »

چې کله د تالندې او بريښـــنا غرمبهار د اوبو شرهار، د زرکانو، سيســــيو، او خرارو له ککهار او پاس په اسمان کې دزاڼو کړهار د ماشـومانو تر غوږو شـي نو ژر ژر خپلې موزې او بوټونه په بل مخ کړي، دوی داسـې انګيري چې په دغه کار سـره به هغوی ګډې وډې شي اورا وبه لويږي. دوی د بوټونو له پر مخې کيدو سره داسې سندره زمزمه کوي.

دزاڼو ميره دزاڼو ميره !

چيغېږې ولې له کومه ويره ؟

نيولې موږه په لاس پتيره

اوس مې موزه کړه درته نسکوره

که په موږ راغلې خوند يې وګوره

له تابه ورکه شي لاره نوره

کتار د تاسې به‌را تاويږي

لوی اوواړه به مو هم چغيږي

چې لږ څه‌ولاړ شي بيا به‌را لويږي

شبکه چندرسانه‌ای بلوآی
بخش نوروزنامه

www.blueye.me | info@blueye.me
+49 176 21 71 06 75